کتاب

# مسیر

ورځپانه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې لومړی | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۰مه | ٦٦٧مه ګڼه


# له ځنډ او ځنډ سره مخ مذاکرات؛

## مذاکراتي پلاوي یو بل د جګړې پر دوام او سولې ته پر نه ژمنتیا تورنوي



۳

د افغان جګړې د مشروعیت او نامشروعیت ناپایه بحث

۲ مخ

افغانستان؛ د سرې جګړې قرباني

۲ مخ

دوه زره کلنه دوستي

۳ مخ

## پښتو معاني

۴ مخ



هنرونه همېشه د بشري ټولنو د ودې په سلسله کې د ټولنې د هغو اشخاصو له لاشعورونو څخه راپنځېدلي دي، چې په ټولنه کې یې د لوړو خیالاتو د عملي کولو زمینه نه ده موندلې، نو خو بیا هم هغه خیالات او افکار د شعر، هنر او ادب په توګه راپنځېدلي دي.

## کرنې ریاست: روان کال په لغمان کې د مالټې او لیمو حاصلات ۲۴۰۰ ټنو ته رسېدلي



د لغمان د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې روان کال په دغه ولایت کې د مالټې او لیمو ۲۴۰۰ ټنه حاصلات ترلاسه شوي دي. د یاد ولایت د کرنې رییس جمیل خوشال ویلي چې سږ کال په دغه ولایت کې لیمو او مالټو ښه حاصلات ورکړي او راتلونکی کال به نږدې دوه برابره زیات شي.

د نوموړي په خبره: «۹٦ هکتاره ځمکه کې موږ د ستروس کورنۍ باغونه جوړ کړي، چې یوازې لیمو او مالټې ۲۴۰۰ ټنه حاصلات کړي، خو مطمین چې دغه کچه به کال ته له خبره سره څلور زره ټنو ته لوړه شي.»

خوشال زیاتوي چې په راتلونکي کال کې به په ۲۵۰۰ هکتاره ځمکه کې د ستروس کورنۍ بوټي کېښودل شي. هغه وايي چې په تېرو دوو کلونو کې یې د لغمان په بېلابېلو سیمو کې د مالټو ۲۰۲ باغونه جوړ کړي، چې په راتلونکي کال کې به ښه حاصل ورکړي.

## مالیې وزارت: یوه ګډه کمېټه د مامورینو د معاشونو د لوړېدو په اړه څېړنه کوي

مالیې وزارت وايي، یوې ګډې تخنیکي کمېټې ته دنده سپارل شوې، چې د دولتي مامورینو د معاشونو لوړولو په اړه هر اړخیزه څېړنه وکړي.

د یاد وزارت ویاند شمعروز خان مسجدي ویلي، چې افغان کابینه به د یادې کمېټې تر څېړنو وروسته په دې اړه پرېکړه وکړي. نوموړي زیاته کړې، چې د کابینې تر پرېکړې وروسته به د مالي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مامورینو د معاشونو د زیاتولو مسئله رامنځته کېږي.

د مسجدي په خبره: «د افغانستان د حکومت د رهبرۍ د هدایت په اساس د مالیې وزارت په ګډون یوې ګډې کمېټې ته وظیفه ورکړل شوې، ترڅو د مامورینو په معاش کې د مثبت بدلون یا زیاتوالي په اړه خپله تخنیکي، مالي او هر اړخیزه څېړنه وکړي او خپل وړاندیزونه د افغانستان کابینې ته وړاندې کړي، تر هغه وروسته به پر دغه وړاندیزونو او طرحو باندې د افغانستان کابینه پرېکړه کوي، کله چې دغه پرېکړه وشي، د مالي امکاناتو په نظر کې نیولو سره به د پرېکړو په اساس د مامورینو په معاش کې د زیاتوالي یا مثبت تغیر مسئله رامنځته شي.»


مالیې وزارت داسې مهال د دغې ګډې کمېټې د رامنځته کېدو خبر ورکوي، چې ولسي جرګې د ښوونکو او ټیټ رتبه مامورینو د معاشونو په لوړېدو باندې ټینګار کړی دی. یادې جرګې تر دې مهاله د نوي مالي کال بودیجه طرحه هم د دې او ځینو نورو لاملونو له امله دوه ځله د رایو په اکثریت سره رد کړې ده.

## ستولتنبرګ: په افغانستان کې مو د سرتېرو حضور په شرایطو پورې تړلی



۲ مخ

## وزارت صحت‌عامه: شمار جان باخته‌گان ویروس کرونا در کشور به ۲هزار و ۳۵۴ تن رسید




وزارت صحت‌عامه در ۲۴ ساعت گذشته از ثبت ۱۳۷ رویداد تازۀ مثبت ویروس کرونا در سراسر کشور خبر داده‌است. بر بنیاد معلومات این وزارت، در یک شبانه‌روز گذشته، ۲هزار و ۰۹۷ نمونۀ مشکوک ویروس کرونا آزمایش شده‌اند.

وزارت صحت‌عامه می‌گوید که در ۲۴ ساعت گذشته هشت تن در نتیجۀ این بیماری جان باخته‌اند و ۱۴۳ تن دیگر، بهبود یافته‌اند. با ثبت رویدادهای تازه، آمار کلی ویروس کرونا در کشور به ۵۴ هزار و ۲۷۸ تن رسید.

رویدادهای مثبت ویروس کرونا در یک شبانه‌روز گذشته در ولایت‌های هرات (۳۳)، ننگرهار (۲۳)، فاریاب (۲۲)، بادغیس (۱۹)، کابل (۵)، کندهار (۱)، تخار (۳)، پکتیا (۱)، بغلان (۱)، پروان (۱)، کندز (۱)، نیمروز (۲)، وردک (۲)، بدخشان (۳)، کاپیسا (۱)، هلمند (۵)، لغمان (۱)، کنر (۲)، غور (٦)، خوست (۲)، سمنگان (۱) و نورستان (۲)، ثبت شده‌اند.

به اساس معلومات این وزارت شمار جان باخته‌گان در نتیجۀ ویروس کرونا در کشور به ۲هزار و ۳۵۴ تن و شمار بهبودیافته‌گان به ۴٦هزار و ۵۵۴ تن رسیده‌است.

قابل یاد آوریست که نزدیک به ۹۷ میلیون تن به این بیماری در سراسر جهان مبتلا شده‌اند و بیش از دو میلیون و ۵۰ هزار دیگر، جان باخته‌اند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د افغان جګړې د مشروعیت او نامشروعیت ناپایه بحث

په قطر کې د افغان حکومت د مذاکراتي ټیم یوه غړي حفیظ منصور ویلي، دوی پریکړه کړې چې له طالبانو سره د مذاکراتو په دویم پړاو کې له پرمختګ وړاندې باید په افغانستان کې د جګړې د مشروعیت په اړه خبرې وشي. نوموړي ویلي، چې اړتیا ده لومړی د دین پر اساس د جګړې او سولې بحث روښانه شي او وروسته بیا پر نورو موضوعاتو بحث وشي. نوموړي زیاته کړې، تر هغو چې دغه موضوع روښانه نه شي، د سولې خبرې به کومې پایلې ته ونه رسېږي.

شاوخوا لس ورځې کېږي چې افغان مذاکراتي ټیم دوحې ته ورغلی چې له طالبانو سره خبرې وکړي، خو د دواړو اړخونو ترمنځ تر اوسه دوه ځلې خبرې شوې چې پکې د کوم پرمختګ خبر نه دی ورکړل شوی. اوس چې د دواړو اړخونو ترمنځ فضا سړه ده، نو د جګړې د مشروعیت او نه مشروعیت بحث مطرح کېږي. د جګړې د مشروعیت او نه مشروعیت بحث پوره حساس، لانجمن او بې پایلې بحث دی. که د دواړو اړخونو مذاکراتي ټیمونه کلونه هم بحث وکړي، بیا به هم په دې اړه کومې پایلې ته ونه رسیږي؛ ځکه که طالبان ومني چې جګړه یې نامشروع ده، نو چې تر اوسه یې څومره جګړه کړې، څومره دوی پکې وژل شوي او څومره یې نور وژلي، دا چاره به څنګه توجیه کوي!؟ طالبان نه غواړي چې داسې څه ومني چې د هغو پر اساس یې هر څه تر پوښتنې لاندې راشي. همداسې که حکومتي پلاوی ومني چې جګړه نا مشروع ده، نو بیا خو ټوله کیسه ختمه ده. د جګړې د مشروعیت او نه مشروعیت بحث له ۲۰۰۱ کال راهیسې را روان دی چې طالبان د خپلو دیني عالمانو او ملاتړو پر مټ دا نه یوازې مشروع ګڼي، بلکې جهاد او فرض یې ګڼي، خو حکومت یې د خپلو دیني عالمانو او دیني ملاتړو پر مټ ناروا او ناسمه ګڼي. په کور دننه له ځینو دیني عالمانو نیولې بیا د ځینو نورو هېوادونو تر دیني عالمانو او آن د حرمینو شریفینو تر امامانو پورې ځینو کسانو په افغانستان کې جګړه نامشروع وګڼله، خو دغو بحثونو او فتواوو د جګړې له درېدو او آن کمښت سره هېڅ مرسته ونه کړه. له همدې امله د جګړې د مشروعیت او نه مشروعیت بحث په هېڅ ډول نه ګټور دی او نه هم کومه مثبته پایله لري.

که خبره دا وي چې جګړه ودرول شي او یا هم اوربند وشي، د دې لپاره باید د جګړې د مشروعیت او نه مشروعیت بحث ونه شي، بلکې په سیاسي توافقاتو کې داسې پرمختګونه وشي چې اوربند او بالاخره د جګړې ختم ته لاره هواره کړي. پر داسې مسایل بحث چې نه ګټه لري او نه هم پای، د سولې پر پروسه منفي اغېز کوي او پکار ده چې ونه شي. د سولې لپاره دواړه اړخونه باید پر هغو مسایلو بحث وکړي چې په اسانۍ توافق پرې کېدلی شي. په دې خبرو کې باید پرمختګ وشي، دا پرمختګ که کوچني هم وي، خو باید وشي، ورو ورو باید دا پرمختګ زیات شي چې ورسره سوله راشي او جګړه یو مخ ختمه شي.

# افغانستان؛

## د سړې جګړې قرباني

لیکنه: محمد یوسف صابر ساپی

**وروستۍ برخه:**

شوروي اتحاد د بخارا په ګډون د مرکزي اسیا خاورې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې وې. د هغوی اقتصادي برترۍ، په افغانستان کې د شوروي په پلوۍ زموږ پر خلکو اغېز درلود. له ایران څخه د شوروي ځواکونو له وتلو او د مها اباد جمهوریت د جوړولو له ناکامو هڅو وروسته، د تودې مارکسېستي -لېنېنستي ګوند د شوروي په ملاتړ خپلو مخفي فعالیتونو ته په ژوندۍ توګه دوام ورکړ. د تودې ګوند مارکسېستي خپرونې په افغانستان کې هم خپرېدلې او خپل اغېز یې درلود. د سي آی اې له خوا د څو روحانیونو، جنرالانو او شاه په همکارۍ د دوکتور محمد صدق د حکومت له ړنګېدو وروسته د رضا شاه پهلوي لویدیځ پلوه واکمنې ټینګه شوه. د امریکا متحده ایالتونو له خپلو متحدینو سره د شوروي اتحاد د نفوذ د مخنیوي او د هغه هېواد د بې ثباتۍ لپاره پر ناټو سربېره، په سیمه کې د سیټو او سنټو نظامي پکټونه جوړ کړل، ترکیه هم د ناټو غړی هېواد و او هم یې د سنټو غړیتوب ترلاسه کړ. پاکستان هم د سیټو پر غړیتوب سربېره، د سنټو غړی هېواد شو. په دې توګه، د شوروي اتحاد پوځي کلابندي بشپړه شوه.

د هند په نیمه وچه کې د انګلیس د واکمنۍ له ختمېدو سره د انګلیس په دستور د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ له کوم دلیل پرته دښمني پیل شوه، چې اصلي دښمن یانې انګریزي استعمار د خیر په غوندۍ کېناست او هغوی په خپلو منځونو کې جګړې پیل کړې.

انګریزي استعمار له دې دښمنۍ څخه دوې موخې درلودې:

۱ـ د هند په ګڼ نفوسه هېواد کې د اسلام د سوله‌ییزې چټکې ودې مخنیوی.

۲ـ د راتلونکې لپاره په سیمه کې د ځان لپاره د ډاډمنې اډې جوړول.

په دې ډول، استعمار د دې تفرقې په اچولو سره، په لوی هند کې مسلمانانو ته د اوسېدو ځای تنګ کړ، ټول یې راټول او په یوې قطعې (پاکستان) کې یې بندي کړل او تر ننه پورې له پاکستان څخه د استعماري موخو د ډاډمنې اډې په توګه ګټه پورته کوي. انګلیس د جګړې له باتور ـ افغان ملت څخه داسې شیطاني غچ واخیست، چې ملا یې ورماته او د ازادۍ پر ځای یې نیمایي د «غلامانو غلامان» او نیمایي نور یې د بلا خولې ته ټېل وهل.

**سردار محمد داوود خان د ډبلې ستراتېژۍ په ګرداب کې**

په ۱۳۵۳ لمریز کال کې نړیوالو افغانستان ته ځانګړی پام راواړوه. د امریکا متحده ایالتونو نوې ستراتېژي د ویتنام په جګړه کې له ماتې وروسته دا وه چې وښیي اوس هم د خپلو ګټو ترلاسه کولو لپاره په ټوله نړۍ کې د مداخلې ځواک او پوځي پوتنشیل لري. د امریکا د ستراتېژۍ د یوې برخې په توګه په سیمه کې د ایران پاچا رضاشاه پهلوي د پاکستان په مرسته یو شمېر سیاسي حرکتونه پیل کړل. د دغو فعالیتونو هدف دا و چې داوودخان دې ته اړ باسي، ترڅو په خپل خارجي سیاست کې د شوروي له تګ لورې څخه مخ واړوي او د لوېدیځ بلاک په خوا کې ودرېږي. دا یوه ډبل (دوه لوریزه) ستراتېژي وه:

له یوې خوا یې د محمد داوود خان مخالفین ـ اسلامي افراطیون د رژیم پر ضد وهڅول او را پاڅول، مذهبي بنسټپالو د دولت پر ضد په یوشمېر پوځي اقداماتو لاس پورې کړ. انګېزه یې هم دا وه چې پرچمیانو له داوود خان سره نږدې همکاري لرله او په کابینه کې یې د کورنیو چارو مهم وزارت په شمول، څلور وزارتونه په لاس کې درلودل. هماغه وخت ټولو ته، په ځانګړې توګه اخوانیانو ته ښه څرګنده وه، چې په افغانستان کې د شوروي سیاست اصلي مجریان پرچمیان دي.

له بلې خوا د ایران شاه له داوود خان سره خبرې وکړې او یو وړاندیز یې ورته وکړ، که افغانستان په خپل باندني سیاست کې د شوروي لوری او پلوي پرېږدي او د لوېدیځ لوری غوره کړي، د ایران دولت به له افغانستان سره د شوروي په پرتله زیاتې پرمختیایي مرستې وکړي. داوود خان دا وړاندیز ومانه. محمد داوود خان د هېواد د آبادۍ هیله درلوده، خو د دې لپاره یې کومه ستراتېژیکه طرحه نه درلوده. هغه هسې ستراتېژیست نه و، د عمل سړی و، د مکیاول «شاهزاده» کتاب یې له ځان سره ګرځاوه. داوود خان د رضاشاه په ژمنو، چې هېڅکله هم ترسره نه شوې، تېروتلو. داوود خان د مقدماتي کارونو په توګه افغاني افسران نور د پخوا په څېر شوروي ته نه، بلکې مصر او نورو لوېدیځ پلوه هېوادونو ته استول، د پاکستان له دولت سره یې دښمني پرېښوده او د هېواد په دننه کې یې پرچمي کدرونه له لوړو دولتي څوکیو څخه لرې کړل او د ا.خ.د.ګ. یې تر تعقیب لاندې ونیو.

د ۱۹۷۴ز کال همدغه بدلون د داوود د رژیم نسکورېدل له ځان سره راوړ. په دې توګه لوېدیځ لوري ته د افغانستان د راکښلو لپاره د ایران د شاه فعالیتونه د متحده ایالتونو په ملاتړ په افغانستان کې د بې ثباتۍ او له دې سره په ۱۹۷۹ز کال کې د شوروي تېري ته زمینه برابروله.

افغانستان ته په داسې حال کې شوروي پوځونه ننوتل، چې د نړۍ فضا د سړې جګړې له ویروسونو څخه ډکه وه. د تېلو پر سر د ایران اشغال، د کوریا خونړۍ جګړه، د کیوبا په بحران کې د اټومي ټکر احتمال، د ویتنام غم لړلې جګړه او نور، اوس د سړې جګړې د دوزخي خېټې په تل کې وې. سړه جګړه لا د انسانانو په وینو مړه نه وه، دا ځل د سړې جګړې مهلک ویروسونه، د دنیو نه پخلاکېدونکو سیاسي جریانونو څخه، چې پخپله د سړې جګړې په متخاصمو جبهو کې رامنځته شوي وو، د کمزوري شوي افغانستان په خېټه ورننوتل او له پښو یې راوغورځاوه.

د ۱۳۵۹لمریز کال د جدی په شپږمه د «دوست شوروي اتحاد» محدود نظامي قطعات د افغانستان سپېڅلې زیارتي خاورې ته ننوتل. د حفیظ الله امین درې میاشتنۍ واکمنۍ د شوروي پوځي ټولګیو کودتايي عملیاتو پای ته ورسوله او د«غویي انقلاب د نوي او تکاملي پړاو» په سر کې ببرک کارمل خپله «اتشینه» وینا د بهرنۍ راډیو له څپو څخه واوروله.

اوس د سړې جګړې څېړونکي او تاریخپوهان د افغانستان جګړه له شک او تردید پرته د زبرځواکونو د نیابتي جګړو په شمېر کې راولي. ښکاري چې د سړې جګړې په متن کې دغه تاریخي مسئله چې شوروي ولې پر افغانستان تېری وکړ او په دې کې تاریخي مسوولیت د چا پر غاړه دی؟ درې اړخونه لري:

الف ـ شوروي اتحاد د سړې جګړې د یوې جبهې سرلښکر په څېر د تېري مخامخ عامل او مسوول دی. څېړونکو په دې برخه کې تر اوسه پورې د کوم ستراتېژیک پلان موجودیت نه دی ثبت کړی.

ب ـ افغاني سیاستوال د جرم شریکانو په توګه، خو هېڅ ډول سالم منطق یا د باور وړ سند او ثبوت وجود نه لري، چې شوروي ځواکونه دې د افغان چارواکو له غوښتنې سره سم افغانستان ته رانوتلي وي.

ج ـ د امریکا متحده ایالتونه د سړې جګړې د مقابلې جبهې مشر او د تېري محرک په توګه.

پر دې سربېره، په عام فلسفي بحث کې د صنعتي ټولنو د ژوند او بقا مسئله، زبرځواکونه یو له بل سره سیالیو او دښمنیو ته اړباسي. صنعتي ژوند په انرژي او نورو اومو توکو ولاړ دی او پایښت یې د صنعتي پیداوارو لپاره د پلور بازارونو پورې تړلی دی. د همدغه ډول عیني ټولنیزو قانوني اړیکو په بهیر کې د افغانستان، ایران، ویتنام... په څېر د دریېمې نړۍ هېوادونه چې طبیعي زېرمې یا جیو ستراتېژیک موقعیت لري او د پلور ګټور بازارونه جوړوي، د زبرځواکونو تر برید لاندې راځي.

له دې انکار نه شي کېدای، چې شوروي اتحاد د دوو متخاصمو سیستمونو ترمنځ د سړې جګړې د نړیوال ډګر په دښمنیو کې د افغانستان خاوره اشغال کړه، یانې د افغانستان د نیولو نړیواله زمینه موجوده وه، خو دا نړیواله زمینه د ټولو نورو هېوادونو لپاره هم وه، خو افغانستان د اشغال مضمون وګرځېد، باید دننني شرایط هم ورته برابروي، یانې د شوروي تېري دنننۍ لاملونه هم لري.


**پای**

## ستولټنبرګ: په افغانستان کې مو د سرتېرو حضور په شرایطو پورې تړلی

د ناټو سرمنشي ینس ستولټنبرګ ویلي چې په افغانستان کې د دغه سازمان حضور په شرایطو په پورې تړلی دی.

نوموړي پر خپل ټیوټر لیکلي چې له افغان ولسمشر اشرف غني سره یې د سولې بهیر په اړه ټلیفوني خبرې کړې دي. ستولټنبرګ زیاته کړې، چې د افغان سولې په اړه د ناټو دریځ نه دی بدل شوی او په دغه هېواد کې د یاد سازمان حضور په شرایطو پورې تړلی دی.

ستولټنبرګ یوځل بیا پر خپلې تېرې ژمنې په ټینګار سره ویلي چې ناټو به د افغان سرتېرو ملاتړ ته دوام ورکړي، ترڅو دغه هېواد یو ځل بیا د هغه په خبره، د نړیوالو تروریستانو لپاره په امن ځای بدل نه شي.



په ورته مهال ارګ هم په یوې اعلامیې کې ویلي، چې په دغه ټلیفوني مکالمه کې دواړو لوریو د سولې پروسې او له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه د ناټو د دوامداره ملاتړ په اړه بحث او خبرې کړې دي.

ارګ وایي، د ناټو سرمنشي ویلي چې ناټو به د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو روزنې، مشورې ورکولو او مرستو په برخه کې خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

ناټو داسې مهال له افغانستان څخه پر خپل ملاتړ ټینګار کوي، چې د امریکا متحده ایالتونو روانه اونۍ په افغانستان کې د خپلو سرتېرو کمولو خبر ورکړ.

سپینې ماڼۍ د تېرې جمعې په ورځ په یوې اعلامیې کې د امریکا د ولسمشر دونالډ ټرمپ له خولې خبر ورکړ، چې په تېرو ۱۹ کلونو کې په لومړي ځل په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شمېر تر ټولو ټیټې اندازې ته راښکته شوی دی.

د امریکا د دفاع وزارت وایي چې د سرتېرو کمول دا ښکاره کوي چې امریکا غواړي په افغانستان کې جګړه ختمه کړي. د ناټو سرمنشي داسې مهال په افغانستان کې د دغه سازمان د سرتېرو حضور په شرایطو پورې تړلی بولي، چې د سولې خبرو له پیلېدو سره هممهاله د چارواکو په وینا، په دغه هېواد کې جګړو، ماین چاودنو او هدفي بریدونو زور اخیستی دی.



لیکوال: شي مونګ

# دوه زره کلنه دوستي

چين او افغانستان د نړيوالو او کورنيو حالاتو له بدلونونو او لوړو ژورو سره سره خپلمنځي دوه زره کلنه دوستي دوامداره ساتلې ده. چينايان له خپلو ګاونډيو سره، په تېره بيا له افغانستان سره ښه ګاونډيتوب ته درناوی لري؛ ځکه د دغو دواړو هېوادونو اړيکې د متقابل درناوي او ګډو ګټو پر اساس جوړې شوې دي او دا په نړيوال تاريخ ډېر کم تر سترګو کېږي.

د چين د رسمي تاريخي سندونو له مخې، کابو دوه زره کاله مخکې د چين د هان امپراتورۍ سلسلې د وخت امپراتور استازي جانګ چيان د افغانستان له مزارشريف څخه ليدنه کړې وه، چې د نوموړي دغه سفر د ورېښمو لرغونې لارې د پيل سبب هم شوی و.

د ورېښمو لرغونې لارې په اوږدو کې د مېشتو خلکو پر ورځني ژوند سيوری غوړولی و او لا يې هم اغېزې ښکاري، د ساري په توګه يې بادرنګ، سره بانجان، انګور او انار يادولی شو. دغه خوراکي توکي پر همدې لارې چين ته راوړل شوي او د چينايانو د ورځنيو خوړو يوه نه جلا کېدونکې برخه ګرځېدلې ده. په لومړۍ ميلادي پېړۍ کې د اوسني افغانستان ختيځ او د پاکستان شمال لوري ته پرتې سيمې او په لويه کې ګندهارا سيمې کې د بودايي کلتور او د هند، يونان، فارس، روم او منځنۍ اسيا سبکونه ګډ شوي وو، چې اوس په تاريخ کې د ګندهارا بودايي کلتور په نوم يادېږي. ګندهارا سبک د چين بودايي کلتور تر ډېرې اندازې پورې اغېزمن کړی و او دا اغېز د چين په ډېرو بودايي مجسمو کې له ورايه ښکاري.

سږ کال د چين ولسي جمهوريت او افغانستان ترمنځ د سياسي اړيکو د ټينګېدو ٦٦مه کليزه ده او دغه کال د دواړو هېوادونو لپاره ستر اهميت لري.

کله چې په ۱۹۴۹ز کال کې د چين ولسي جمهوريت جوړ شو، نو د افغانستان د وخت حکومت په لومړيو وختونو کې په رسميت وپېژانده او ورپسې دواړو خواوو په ۱۹۵۵ز کال کې رسمي ډيپلوماتيکې اړيکې ټينګې کړې.

چين د افغانستان ګاونډی دی او همېشه يې د دغه هېواد له بيا رغونې څخه ټينګ ملاتړ کړی او په بېلابېلو برخو کې يې تر وسې پورې ورسره مرستې کړي او کوي يې.

چين غواړي له افغانستان سره خپلې انکشافي تجربې شريکې کړي. هر کال ګڼ شمېر افغان دوستان په سيمينارونو او کورسونو کې د ګډون لپاره چين ته راځي او له دغه هېواد څخه ليدنه کوي، د ابتدايي شمېرنې له مخې، اوس څه دپاسه شپږ سوه افغان محصلين د چين په بېلابېلو پوهنتونونو کې زده کړې کوي.

**تجارت او سوداګري انکشاف ته خوځنده ځواک ورکوي**

چين د ۲۰۰٦ز کال په جولای کې اعلان وکړ، چې د افغانستان له کابو درې سوه ډوله صادراتي توليداتو به هېڅ ګمرکي ماليات وا نه خلي. د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ لومړی هوايي دهلېز د ۲۰۱۸ز کال په نومبر کې پرانيستل شو او له دې لارې د افغانستان دوه زره ټنه جلغوزي چين ته ولېږدول شول. د دې ترځنګ په راتلونکي کې به د افغانستان د زعفرانو، بادامو او مميزو په ګډون ډول ډول ځانګړي توليدات چين ته صادر شي او د چمتووالي کارونه يې روان دي.

**چين اوس د افغانستان درېيم لوی تجارتي همکار دی**

په ۲۰۱۹ز کال کې چين ته د افغانستان د صادراتو ارزښت ۳۰ ميليونو امريکايي ډالرو ته ورسېد، چې اوس دغه رقم مخ پر زياتېدو دی او په همدې کال کې له افغانستان څخه چين ته د مالونو لېږدوونکې لومړنۍ اورګاډې تګ راتګ پيل کړ. چينايان د دې هرکلی کوي، چې په خپلو بازارونو کې لا زيات افغان ځانګړي توليدات ووينې.

د دواړو هېوادونو ترمنځ بل مهم کار د کلتوري اړيکو تبادله او د ځوانانو ترمنځ راشه درشه ده. ډېری افغانان اوس په چيني ژبې زده کړې کوي او هم ډېری چينايان پښتو او دري ژبې زده کوي.

د چين حکومت په ۱۹۵۹ز کال کې افغانستان ته د پښتو او دري زده کړې لپاره محصلين ولېږل او په ۱۹۷۳ز کال کې يې د چين پښتو راډيويي خپرونې پيل کړې. له ۲۰۰۸ز کال راهيسې سلګونه افغان محصلين د کابل پوهنتون له کنفوسيوس پوهنځي څخه فارغ شوي او اوس په چيني ژبې رواني خبرې کوي. ژبه د کلتور نښه ده او د کلتور متقابله پېژندنه بيا د خلکو زړونه نږدې کوي.

د دواړو هېوادونو دوستي ټينګه ده او يو بل ته بد نيت نه لري. چين په افغانستان کې شخصي ګټې نه لټوي، د دواړو هېوادونو دوستي صادقانه ده او همدا د دواړو هېوادونو د خلکو ګډه هيله ده. چين د افغانستان په کورنيو چارو کې هېڅ لاسوهنه نه کوي، دواړې خواوې يو د بل درناوی کوي او خپلو واقعيتونو ته په کتو، بېل ټولنيز سيستمونه او انکشافي لارې انتخابوي. دوه زره کاله دمخه افغانستان د ورېښمو لارې په اوږدو کې يوه ځلانده ملغلره وه. کله چې چين د يو کمربند او يوې لارې وړانديز مطرح کړی، افغانستان له دغه انکشافي وړانديز سره د پيوستون واضېح هيله څرګنده کړې او غواړي د اسيا زړه او د اسيا - اروپا د ځمکني پل رول ولوبوي. چين هم هيله لري، چې په افغانستان کې ژر تر ژره دايمي سوله او ارامتيا رامنځته شي. چين د تېر په څېر د افغانانو په مالکيت، مشرۍ او لارښوونې د دغه هېواد له سوله‌ييز بهير څخه ټينګ ملاتړ کوي او د ګاونډي په کور کې جنجالونه نه غواړي.

# له ځنډ او خنډ سره مخ مذاکرات؛

## مذاکراتي پلاوي يو بل د جګړې پر دوام او سولې ته پر نه ژمنتيا تورنوي



سره له دې چې په هېواد کې جګړو زور اخيستی او د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی ظاهراً له خبرو خوښ نه ښکاري، خو طالبان د بهرنيو ځواکونو د وتلو په لټه کې دي. د وسله والو طالبانو د قطر دفتر وياند ډاکټر نعيم په تازه مرکه کې ويلي چې د بايډن حکومت دې د ټرمپ پر تګلاره عمل وکړي او له افغانستانه دې د خپلو سرتېرو ايستلو ته ادامه ورکړي. بلخوا د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي غړي بيا وايي چې طالبان د خبرو له لارې د جګړې د ختمولو اراده نه لري او جګړې ته ادامه ورکوي.

په وروستيو اونيو کې په هېواد کې تاوتريخوالی ډېر شوی او عام افغانان دا تمه لري چې ټول اړخونه ژر تر ژره د جګړې د ختمولو پر سر توافق وکړي. د سولې او مدني فعالين په ټولنيزو رسنيو کې د سولې پر ځنډني بهير نيوکې کوي او پر دې باور دي چې که وضعيت همداسې روان وي، نو ښايي د هوا په ګرمېدو سره په هېواد کې د جګړې نوی پړاو پيل شي. افغان حکومت هم په دې باور دی چې طالبانو په نوي کال کې د يوې بشپړې جګړې لپاره هر اړخيز تياری نيولی دی.

د افغان حکومت مذاکراتي ټيم هم وايي چې طالبان د خبرو له لارې د جګړې ختمولو ته تيار نه دي. د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي غړي محمد امين احمدي ويلي، طالبان په دې ورځو کې په دې فکر کې دي چې له افغان حکومت او نړيوالې ټولنې سره توافق ته تر رسېدو مخکې د امريکا په واسطه خپل بنديان خوشي کړي او ښايي دا مسئله جګړې شديدې کړي. د ده په خبره: «طالبانو داسې هڅه پيل کړې چې له حکومت او نړيوالې ټولنې سره تر توافق پرته له امريکا سره د خبرو له لارې خپل بنديان خوشي کړي، دوی د افغان حکومت پر وړاندې بې تفاوتي ښيي».

د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي دغه غړي دا هم ويلي، چې طالبان له افغان پلاوي سره مذاکراتو ته دومره تمايل نه ښيي. د ده په خبره، دوی يوازې پر خپلو ګټو تمرکز کوي. د احمدي په خبره: «طالبان د افغان دولت له مذاکراتي پلاوي سره پر مسائلو جدي او اصولي مذاکرې ته تمايل نه لري. دوی يوازې په خپله ګټه خبرې کوي او په هېواد کې د عادلانه سولې هېڅ فکر نه لري».

د مذاکراتي پلاوي دغه غړي د طالبانو روانه جګړه هم ننګولې او په وينا يې، که طالبان وغواړي، نو دوی چمتو دي چې له ديني اړخه د طالبانو جګړه باطله ثابته کړي. هغه وايي، د طالبانو له لوري روانه جګړه افغان وژنه ده او دغې ډلې ته په کار ده چې خپلو جګړو ته د پای ټکی کېږدي. د ده په خبره: «موږ چمتو يو د مېز پر سر د طالبانو جګړه له ديني اړخه باطله او مسلمان وژنه ثابته کړو».

د مذاکراتي پلاوي يوه بل غړي حفيظ منصور هم ويلي، چې په مذاکراتو کې د پرمختګ او سولې لپاره بايد تر هر څه وړاندې د روانې جګړې پر ديني اړخ بحث وشي. حفيظ منصور له رسنيو سره په خبره کې ويلي چې افغان حکومت د مذاکراتو پر مېز په هېواد کې د روانې جګړې پر ديني اړخ بحث ته چمتو دی او تر هغه چې دا بحث نه وي روښانه شوی، مذاکرات پايلې ته نه رسېږي.

له دې ورهاخوا طالبان بيا پر دې ټينګار کوي چې د بايډن په مشرۍ د امريکا نوی حکومت بايد د طالبانو او امريکا ترمنځ پر شوې هوکړه عمل وکړي او په دې توګه دې له افغانستان د خپلو سرتېرو ايستلو ته ادامه ورکړي. د دوی په خبره، امريکا بايد د ټرمپ د تګلارې پر بنسټ خپل سرتېري له افغانستانه وباسي، څو په هېواد کې د روانې جګړې پای ته رسولو ته زمينه مساعده شي. نعيم ويلي، د جګړې د پای ته رسولو لپاره بايد اقدامات وشي، نه دا چې دا پروسه په بېلو پلمو له ځنډ او خنډ سره مخ شي.

د سولې بهير داسې مهال د يادو نانډريو له امله له خنډ او ځنډ سره مخ دی چې په هېواد کې جګړه شديده شوې او د نړيوالو تر څنګ عام افغانان هم د دې غوښتونکي دي چې ژر تر ژره بايد بين الافغاني مذاکرات د جګړې د ختمولو سبب شي.

# راپورونه: په سوډان کې د وسله والو په خونړي برید کې۸۰ تنه وژل شوي او له ۱٦۰ ډېر ټپيان شوي

د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتوني ګوترېش د سوډان پر چارواکو غږ کړی، چې ژر تر ژره دې د خلکو امنيت خوندي کړي.

ګوترېش وروسته له هغې دا غوښتنه کړې، چې ناپېژنده وسله والو د ياد هېواد د لوېديځ دارفور د کرېنډېنګ د کډوالو په کمپ او نورو سيمو کې شاوخوا ۸۰ تنه ووژل او ۱٦۰ نور يې ژوبل کړل.

حکومت له دغې پېښې وروسته په سيمه کې اضطراري حالت اعلان کړی او د يادې سيمې والي محمد عبدالله الدومه سلګونه سرتېري سيمې ته استولي دي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي په يوې اعلاميې کې د وژل شويو کسانو له کورنيو سره خواخوږي څرګنده کړې او زخميانو ته يې عاجله شفا غوښتې ده.

الدومه ويلي چې دا پېښه له هغې وروسته وشوه، چې د «مساليت» قبيلې د يوې شخصي مسئلې پر سر د «عرب» قبيلې يو کس وواژه. د هغه په خبره، قاتل نيول شوی او لويې څارنوالۍ د پېښې پلټنه پيل کړې ده.

محمد عبدالله الدومه، ساوت سوډان ان فوکس خبري ادارې ته ويلي، چې سلګونو وسله والو د غچ اخيستلو لپاره په لوېديځ دارفور باندې برید کړی دی.

هغه ويلي: «پر کمپ د برید هېڅ دليل نشته. زه نه پوهېږم چې قاتل د دغه کمپ دی کنه. دا يو فردي کار و، خو هغوی د کمپ درېيمه برخه سوځولې او يو شمېر کسان يې وژلي دي. موږ لا هم مړي شمېرو. بريدګرو ودانۍ هم لوټلې دي.»

د راپورونو له مخې، سلګونه کسان له کمپ څخه تښتېدلي هم دي. د سوډان د ډاکټرانو مرکزي کمېټې راپور ورکړی چې په دغې پېښې کې ۸۳ کسان وژل شوي څه باندې ۱٦۰ نور ژوبل شوي دي، خو چارواکي وايي ښايي تلفات تر دې هم زيات شي.

د لوېديځ دارفور والي وايي، چې ولسي خلک سپکې او درنې وسلې لري چې بايد ترې واخيستل شي. د هغه په خبره، دغه کار د سولې د شوي تړون د عملي کېدو په مخکې کې لوی خنډ دی. په دارفور کې د ملګرو ملتونو د افريقا د سوله ساتو ځواکونو ماموريت د تېر ډسمبر په وروستيو کې پای ته ورسېد. دوی هلته د ولسي خلکو د ساتلو ماموريت درلود، چې اوس ترې راوتلي دي.

په ورته مهال د سوډان لوی څارنوال تاج السير الحبر امريکا غږ ته ويلي چې دوی د پلټونکو يوه ډله سيمې ته استولې چې د بريدګرو پر ضد جنايي قضيې ثبت کړي.


د يادونې ده چې د ۲۰۲۰ز کال د اکتوبر په مياشت کې د سوډان انتقالي حکومت په دارفور کې له يو شمېر وسله والو ډلو سره د سولې تړون لاسليک کړ. په تړون کې راغلي، چې د لوېديځ دارفور د سيمې د امنيت لپاره ۱۲۰۰۰ ګډ امنيتي ځواک جوړ شي، خو دا ځواک لا نه دی تشکيل شوی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پیښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
کابوکي





مشرف سم نه پېژنم، خو له ده سره مې معاملې ته زړه کېده. د کشمیر په مسئله کې چې ما څه ولیدل، دی یې راباندې ګران کړ. له شک پرته په وروستیو ۲۵ کلونو کې د کشمیر په مسئله کې تر مشرف مثبت یا معقول پاکستانی مشر نه دی تېر شوی. ده په کراتو دا خبره کړې ده چې کشمیریانو ته چې څه د منلو وي، هغه پاکستان ته هم د منلو دي. دا د هند لپاره ښه خبره وه. موږ باید دا خبره منلې وای او د همدې خبرې پر تهداب مو نورې خبنتې اېښې وای، خو موږ یو ځل پښې و ایستلې.
د سپټمبر د یوولسمې له امله د امریکایانو فشار د مشرف لاس او پښې تړلي وو. خو چې هر څه وو، ده بېلتون پالو ته ویلي وو چې یا دې خبرو ته غوږ شي، که داسې نه کوي په مخه یې زېړې ګلونه. او که غواړي چې په ټاکنو کې ګډون وکړي، نو و دې یې کړي. نن سبا پاکستان سخت کوښښ کوي چې «حریت» سره متحد کړي؛ خو مشرف دا ډول هڅه نه کوله. ده ته چې څرګنده شوه چې ګیلاني یې په مخه کې اغزی دی، نو ان په یوه غونډه کې یې ورته ویلي وو: «بوډا له مخې مې ورکېږه.» له هغه سره تل د راتلونکې غم و. که نن له هر یوه کشمیري (البته له ګیلاني صېب پرته) سره بحث کوې نو درته به وایي چې یوازېنی شونی کار د څلورو پړاونو طرحه ده.
دوراني: مشرف په دوبۍ کې اوسي، که کله ورغلې....
دولت: زه باید ورته ځان معرفي کړم.
دوراني: په لیدو به دې خوشاله شي، احسان درسره مرسته کولای شي. له ما سره خو له تېرو لسو کلونو راهیسې خپه دی. ما د ده پر مهمه طرحه په ښکاره نیوکې وکړې. هغه د «واکونو سپارلو» سیاست چې حکومتولي باید د خلکو تر درشلونو یووړل شي. خبره ښه خبره وه، خو ده او «تنویر نقوي صېب» چې څنګه دا طرحه پر مخ بېوله، نو د یوې فاجعې لاربښود ښکارېده. ما له رسنیو سره په خبرو کې اول همدا خبره وکړه، په مشرف نو دا ښه نه لګېده چې یو پخوانی پوځي دې پرې دغسې نقد وکړي. موږ د یوې ډلې خلک وو، ځکه یې نو زما له ادرسه پر دغسې خبرو خوا بدېده.
سېنها: نواز شریف ولې په کارګېل پسې سمدستي مشرف لرې نه کړ؟
دوراني: ده مشرف لرې کاوه. ده ډېر ژر په دې کار لاس پورې کړ.
دولت: دا نو ډېر وروسته و.
دوراني: ډاډه یم چې ځېنې هوښیارو سلاکارانو یې دې کار ته نه پرېښود. د مشرف سلف «جهانګیر کرامت» یو کال وړاندې استعفا کړې وه، یا به استعفا ته مجبور شوی و. نواز شریف چې واک ته ورسېد، سمدستي یې د سمندري ځواکونو مشر له دندې لرې کړ. له پوځ غونډې یوې اداري سره ښکرونه اړمول، ښه خبره نه وه. زموږ تاریخ را ته وایي چې په دې برخه کې باید له ډېر احتیاطه کار واخیستل شي.یقیناً میا صېب باید تر ډېره صبر کړی وای. په سپټمبر کې نواز شریف دې پایلې ته رسېدلی و چې که مشرف په تر ټولو ځواکمنې څوکۍ ناست وي، نو دی به ورسره ارام نه وي. له لرې کولو پرته د مشرف د څنډې ته کولو بله لار دا وه چې دی باید د لوی درستیزانو د ګډې کمېټې رئیس کړای شوی وای. دا داسې یو پوسټ دی چې د پاکستان په پوځ کې یې واکونه محدود دي، یوه تن مشرف ته دا وړاندیز ور ووړ، خو هغه رد کړ. نواز شریف ورته بیا وړاندیز وکړ چې دی به د لوی درستیزانو د ګډې کمیټې رئیس هم او لوی درستیز هم وي. مشرف ورته وویل چې دا وړاندیز مني.
مشرف ته هم دا معلومه شوه چې که نواز شریف ته موقع په لاس ورشي، نو په لومړي قدم کې به یې لرې کړي، ځکه یې د راتلونکې لپاره یو احتمالي پلان جوړ کړ.
په اګسټ کې مې له مشرف سره یو په یو ناسته درلوده. ده راته وویل چې حکومت په عام محضر کې د کارګېل د ماتې پړه د پوځ پر غاړه ور اچوي. ما ورته وویل چې ښه نو څه؟ هغه راته وویل چې څه باید وشي ستا مشوره غواړم؟
ما وویل تر کومه چې زه نواز شریف پېژنم نو له تا سره جوړ نه راځي، دی له بیګ سره جوړ نه شو، همدارنګه له آصف نواز سره او ان جهانګیر کرامت سره چې بې ازاره چونګښه وه، مسلکي برخورد یې کاوه او له دندې یې ناوړه ګټه نه اخیسته، هم جوړ را نغی. ان په ۱۹۹۸ کې د هند د اټومي تجربې نه وروسته ده یوازې همدومره وویل، لومړی وزیر صېب، اقتصادي او سیاسي بدلې پایلې یې باید تاسې و ارزوئ. خو له ده سره هم یو ځای ته و نه رسېد. د ده تقاعد ته لا درې میاشتې پاتې وې چې استعفا یې وکړه او بلې دورې، له غوسې ډکې دورې ته یې غاړه کېښنبوده.
نو ما مشرف ته وویل چې له تا سره هم نه جوړېږي. دی دې لرې کولو ته د فرصت په لټه کې دی. خو سیاسي کودتا ته چاپېریال جوړ نه دی. نن سبا آن په «کېله یې هېوادونو» کې لا په ظاهره ولسواکي حاکمه ده.یادېږي مې چې ورته و مې ویل چې وړاندې لاړ شه او د بل قدم په تړاو فکر وکړه. دا ښکاره وه چې که مشرف ژور پارېدلی نه وي، نو کودتا نه شي کولای.

**دوام لري...**

# پښتو معاني

اکسوس کتابپلورنځی

پښتو معاني څېړنیز اثر په دې وروستیو کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد پوهنمل محمود مرحون لیکلی دی. په دغه کتاب کې د معاني (چې په ادبیاتو کې یو لوی او جالب بحث دی) پر مخینې، پښتو معانې، په اوسني ژوند او ادب کې د معاني پر اړتیا، فصاحت، بلاغت، صراحت، اسنادو او نورو مسایلو مفصل بحثونه شوي دي.
د یاد اثر لیکوال د دغه کتاب په سریزه کې لیکلي: «انسانان د پرمختګ په پېړیو کې له ځان سره هر هغه څه را کاږي چې د دوی په پرمختګ کې برخه لري. ادب او هنر هغه پدیده ده چې د انسانانو له ژوند او سلیقو سره یوځای او خوله په خوله او نسل پر نسل را روانه ده او هنر د ژوند هغه برخه ده چې انسان یې په شعوري توګه نه، بلکې په لا شعوري توګه پنځوي. که څه هم ډېری نوکي او زلمکي انسانان به بوخت وي چې په زور هنر او ادب وپنځوي، مګر هغه څکه خوند نه کوي چې په لا شعوري توګه نه وي پنځېدلي؛ بلکې په زور پنځول شوي وي او په زور پنځېدلی هنر همېشه مصنوعي، ستوخ او نه هضمېدونکی وي.
هنرونه همېشه د بشري ټولنو د ودې په سلسله کې د ټولنې د هغو اشخاصو له لاشعورونو څخه راپنځېدلي دي، چې په ټولنه کې یې د لوړو خیالاتو د عملي کولو زمینه نه ده موندلې، نو خو بیا هم هغه خیالات او افکار د شعر، هنر او ادب په توګه راپنځېدلي دي. زه حتی د دې ادعا لرم چې هنر او ادب زموږ هغه هیلې او ارزوګانې دي چې کامیابه شوې نه دي که کامیابه شوې وای، بیا هیله او ارمان نه پاتې کېدې او په عمل بدلېدلې.....
دغه بحث د معاني د علم له پېژندنې او تاریخچې څخه پیلوو، په ادب، لیکنه او خبرو کې یې پر اړتیاوو غږېږو او بیا د معاني اته بابه یو په بل پسې بحثوو، په هر بحث کې موجوده ټول تعریفونه او اساسات وړاندې کوو، له تعریف او تشریح سره په پښو ادب کې یې مثال په تطبیقي توګه وړاندې کوو. هیله مو دا وي چې دغه څېړنه وروستۍ و نه بولئ....»
دا پورتني هغه موارد وو چې د یاد اثر لیکوال د کتاب په سریزه کې راوړي دي. دغه کتاب ټولټال ۴۵۵ مخونه لري چې مینه وال یې په کابل کې پر اکسوس کتابپلورنځي سربېره، د ښار او ولایتونو له لویو کتابتونو څخه هم په مناسب قیمت تر لاسه کولی شي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | The Power of Habbit | Charles Duhigg | ۲۷۰؋ |
| ۲ | The View from castle Vabm castle rock | Alice Munro | ۲۳۰؋ |
| ۳ | Never let me Nab Go | kazuo Ishiguro | ۲۰۰؋ |
| ٤ | Girl wash your Gabur face | Rachel Hollis | ۱۲۰؋ |
| ٥ | Girl Stop Aabpoogizing | Rachel Hollis | ۲۰۰؋ |
| ٦ | Ask and it is Given Dr Wabs Given | Dr. Wayne W. Dyer | ۲٥۰؋ |
| ۷ | Change your THOUGHTS Change your LIFE WAYNEabTHOUGHTS Change your LIFE | WAYNE W. DYER | ۳۳۰؋ |
| ۸ | THE UNIVERSE HAS YOUR BACKab HAS YOUR BACK | GABRIELLE BERNSTEIN | ۳۸۰؋ |
| ۹ | HIGHT FERFORMANCE HABITSabMANCE HABITS | BREDON BURCHARD | ۳۸۰؋ |
| ۱۰ | You are a Badass at Making Mabdass at Making Money | Jen Sincero | ۲۳۰؋ |
| ۱۱ | Be the Hands and Fab and Feet | Nick Vujicic | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | The End of History and the Last Mabistory and the Last Man | Francis Fukyama | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | Awaken the Giant Wabiant Within | Anthony Robbins | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | A THOUSAND SPLENDID SUNSabPLENDID SUNS | Khaled Hosseini | ۲٥۰؋ |
| ۱٥ | Originals how non conformists non-conformabw non-conformists move the world | Adam Grant | ۲۰۰؋ |
| ۱٦ | How to Stop TabTime | Matt Haig | ۱۷۰؋ |
| ۱۷ | Sea Pabhaled | Khaled Hosseini | ۱۰۰؋ |
| ۱۸ | Still Mabo | Jojo Moyes | ۲۷۰؋ |
| ۱۹ | On The COMe UabUp | ANGIE THOMAS | ۳۰۰؋ |
| ۲۰ | Jump Take the Leap of fait tho Achieve your life of Aabe Leap of fait tho Achieve your life of Abundance | Steve Harvey | ۱۷۰؋ |
| ۲۱ | A Very Large Expanse of Sab Expanse of Sea | Tahereh Mafi | ۲۷۰؋ |
| ۲۲ | SAY IT LIKE OBAMA AND WINabOBAMA AND WIN! | SHEL LEANNE | ۱٥۰؋ |
| ۲۳ | The Power of Positiv Thinking Nab Positiv Thinking | Norman Vincent Peale | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | Motivate to Win | «Richard Denny» | ۱۲۰؋ |
| ۲٥ | Educated A Mabemoir | Tara Westover | ۲۸۰؋ |
| ۲٦ | Sapiens A Brief History of Humankind Yabief History of Humankind | Yuval Noah Harari | ۳۸۰؋ |
| ۲۷ | THE POWER OF HABIT SMATER FASTER BET-TERab HABIT SMATER FASTER BETTER | CHARLES DUHIGG | ۲٥۰؋ |
| ۲۸ | Homo Deus A Brief History of Tomorrow | Yuval Noah Harari | ۲۷۰؋ |
| ۲۹ | Nineteen Eighty Fabhty-Four 1984 | George Orwell | ۱۷۰؋ |
| ۳۰ | پښتومعاني | محمود مرهون | ۳۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# د اغېزمنې رهبرۍ لس عمده ځانګړنې

ژباړه: اسدالله اسد

رهبر که په تولیداتي سطحه وي او یا په خدماتي، هغه شخص دی چې د سازمان ټولې کړنې یې له مخې مدیریت کېږي، پرته له دې چې نوموړی په دې هرم کې خپل موقعیت ته پام وکړي. مهمه نه ده چې تاسې د لوی مدیر په توګه دنده اجرا کوی او یا هم د سازمان د کومې برخې مسوولیت ستاسو پر غاړه دی، تاسو باید خپل تر لاس لاندې کارکوونکي په سمه توګه اداره کړئ، چې خپلې موخې ته لکه څنګه چې لازمه ده، په همغه ډول ور ورسېږي. په اداره کې د یوه ښه او پیاوړي مدیر شتون کولای شي چې د کار چاپېریال په یوه ښه روزنتون بدل کړي او له دې لارې ښې او ګټورې تجربې تر لاسه کړي. که چېرې مدیر بریالی او پیاوړی نه وي، د کار سیمه به په دوزخ بدله شي چې په دې توګه به خپل ارزښتمن وخت خوشې تېر کړي. بریالی، ښه او پیاوړی مدیر کولای شي خپلو کارکوونکو ته انګېزه ورکړي، چې ناکامې تجربې په راتلونکې کې تکرار نه کړي او اداري کارونه د ټولو کارکوونکو په سلا مخ ته یوسي او په اداره کې سمه کاري فضا رامنځته کړي، چې وکولای شي سازمان د بریالیتوب خوا ته بوځي.

لاندې ټکي له تاسو سره مرسته کوي څو ښه، پیاوړی او بریالی مدیر و اوسی:

**۱ـ نه ستړې کېدونکې منډې ترړې وکړئ**

په لومړیو ورځو او اونیو کې تل د کار او وخت تر منځ رقابت روان وي او هغه هم بېخي شدید؛ خو تاسې تل په دې تمرکز وکړئ، چې مشتریان اداري یا سازمان ته راجلب او له سیالانو سره سیالي وکړای شی. دغه منډې ترړې ممکن په پیل کې ستونزمنې وي، خو د وخت په تېریدو کولای شي ستاسو سازمان یا اداره د بریا لوړو پوړیو ته ورسوي.

**۲- خپل کارکوونکي ښه وپېژنئ**

که غواړی چې یو ښه مدیر و اوسی، باید خپل کارکوونکي په ښه ډول وپېژنئ، چې له کار کوونکو سره خبرې او روغبړ کول د هغوی د پېژندلو یوه ښه لار ده. تاسو کولای شی د خپلو کارکوونکو د خوښې وړ موضوعاتو په اړه له هغوی سره بحث وکړئ او هر څومره چې خپل کارکوونکي ښه وپېژنئ، په هماغه کچه به وکولای شی چې هغوی ته ښه لارښوونه وکړی.

**۳- خپل ارتباطي مهارتونه پیاوړي کړئ**

د اداري د لارښوونې او مدیریت لپاره له خپلو کارکوونکو سره د اړیکو ساتلو ته اړتیا ده. د دې لپاره باید پیاوړي ارتباطي مهارتونه ولرئ، څو وکړای شی خپل افکار او غوښتنې د یو ښه ارتباطي مهارت له لارې خپلو کارکوونکو ته ولېږدوی. که چېرې تاسو هر څومره ځیرک و اوسی؛ خو ارتباطي مهارت ونه لری، نه شی کولای چې یو ښه مدیر پاتې شی.

**۴- ځای ځایګي ته زړه مه خورئ**

هېڅ هم په لومړیو کې دفتر او یا هم عصري دوکان نه دی لرلی، حتی زیاتره لوېدیځوال هم خپل کارونه له کافي شاپه پیلوي. حتمي نه ده چې ته دې په لومړیو کې د ماسټرې لرونکي مامورین له ځان سره ولرې. له پوهنتونونو څخه تازه فارغېدونکي کسان په ټیټ معاش او یا هم په امتحاني دوره کې په مفت ډول کار کوي. له دوی څخه ګټه پورته کړئ.

**۵- د خپل کاري دفتر دروازه د خپلو کارکوونکو پر مخ تل پرانیستې وساتئ**

په خپلو غونډو کې خپلو کارکوونکو ته په ډاګه ووایئ، چې د تل لپاره د هغوی په خدمت کې یاست او هغوی کولای شي خپلې غوښتنې او وړاندیزونه په هر ځای او هر وخت کې له تاسو سره شریک کړي. د داسې مدیرانو په څېر مه اوسئ چې فکر کوي، که چېرې د دفتر دروازې یې خلاصې وي، کارکوونکي به ورته مزاحمت وکړي. د خپل کاري دفتر د دروازې په پرانیستلو سره کارکوونکو ته وښایاست، چې د کار چاپېریال ورته په زړه پورې کوی او خبرو ته یې غوږ نیسی.

**٦- اړیکې مو غښتلې کړئ**

په ټوله کې د پراختیا او ودې لاره دا ده چې ارتباطات ولرو. یانې له خپلې کورنۍ، ملګرو او خپلوانو سره خپلې اړیکې پیاوړې کړو، هر څومره چې مو ارتباطات ډېرېږي، په هماغه اندازه به مو اداره یا سازمان مخکې روان وي او له خنډونو څخه به خوندي وی؛ د دې لپاره چې زموږ اړیکې غښتلې او پیاوړې شي، باید داسې مدیران او کارکوونکي په کار وګومارو چې هغوی پراخې اړیکې ولري.

**۷- د خپلو کارکوونکو لپاره مېلمستیا جوړه کړئ**

غوره به وي چې یوه مناسبه مېلمستیا جوړه کړئ. په دغې مېلمستیا کې خپل ملګري، خپل خپلوان، فعلي او متوقع پېرودونکي را دعوت کړئ. کله چې خلکو مېلمستیا وخوړه، نو نور بیا کیسې کوي. خبر یاست چې دغه کیسې به یې د څه په اړه وي؟ ستاسو د رهبریت او سمې تنظیمونې په هکله.

**۸- په فعاله توګه مدیریت وکړئ**

په فعاله توګه مدیریت کول په دې مانا دي چې کارکوونکو ته له مزاحمت پرته د هغوی کړنې وڅارئ، څو پوه شی چې هغوی څه تر سره کوي. تاسو باید باور ولرئ چې ستاسو کارکوونکي د کار کولو پوره وړتیا لري او د هغوی له کار نه د مدیریت کولو پر ځای د هغوی مدیریت وکړئ. د کارکونکو مدیریت هغه مهال ستونزمن کېږي، چې تاسو د کنترول لوړ حساسیت ولری.

**۹- خپل مشتریان خوښ وساتئ**

د مشتریانو خوښي او رضایت له بېلابېلو لارو، د بېلګې په ډول د جنس د کیفیت له لارې، د نغدي مکافاتو له لارې او یا د هغوی د ذوق مطابق د توکو او خدماتو د تولید له لارې په پام کې وساتئ، څو هغوی په وار وار تاسې ته راشي او له تاسې توکي وپېري او یا مو هم په نورو ځایونو کې د ښه پلورونکي په نوم یاد کړي. دا کار نه یوازې ستاسې پر ښې رهبرۍ اغېز لري؛ بلکې د دې ترڅنګ تاسې ته ډېره ګټه هم را جلبوي.

**۱۰- د کارکونکو تېروتنو ته وار مه خطا کوئ**

د مدیر په توګه تاسو د خپلو کارکونکو د کړنو او تېروتنو مسوول یاست، په دې توګه تاسو کولای شی ښې، کره او روښانه لارښوونې چمتو او د تېروتنو له رامنځ ته کېدو مخنیوی وکړی. دې ته هم باید پام وکړئ چې خپل کارکوونکي له تېروتنو و نه ډار کړی، چې بیا به هغوی د هر جزوي کار د تر سره کولو لپاره تاسو ته مراجعه کوي، په دې توګه به هغوی هوډ نیونو ته کومه لېوالتیا ونه لري؛ ځکه داسې فکر به کوي چې تېروتنه به وکړي او دا به د دې لامل شي چې ستاسو کارکوونکي به په تاسو متکي وي. دا کار به کمې ګټې ولري او ډېر وخت به مو در ضایع کړي. د زده کړو او د کارونو د ښه والي لپاره تېروتنې حتمي دي او پر خپلو کارکوونکو باندې باور وکړئ او د ځینو تېروتنو وړاندوینه یې هم په پام کې ولرئ. ښه دا ده چې د کارکوونکي تېروتنه مو په ښه ډول هغه ته وښیئ او د بیا تکرار د مخنیوي اغېزمنه لاره ورته پیدا کړئ.

## ځارونکي بنسټونه: امنیتي وضعیت ته په کتو، راتلونکی کال د ځلورو ټاکنو ترسره کېدل ناشوني دي

په افغانستان کې د انتخاباتو ځارونکو بنسټونو په غزني ولایت کې د ولسي جرګې د انتخاباتو په ګډون، په دې هېواد کې د ځلورو انتخاباتو د ترسره کولو لپاره د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون په چمتووالي اندېښنه ښرګنده کړې ده.

دغه بنسټونه وايي، چې په کابل او ټولو ولایتونو کې امنیتي وضعیت ته په پام د ولایتي شوراګانو، ولسوالیو شوراګانو، ښاروالیو او په غزني کې د ولسي جرګې د انتخاباتو ترسره کېدل امکان نه لري.

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یا فیفا رییس نعیم اصغري وايي، چې د ټاکنو له ترسره کېدو مخکې باید د هېواد انتخاباتي سیستم د سیاسي ګوندونو په موافقه او د ځارونکو بنسټونو په همغږۍ اصلاح شي.

د نوموړي په خبره، که د انتخاباتي سیستم له اصلاح پرته او په اوسنیو شرایطو کې انتخابات ترسره کېږي، نو سمبولیک او له درغلیو به ډک وي. هغه زیاتوي: «که وغواړو چې انتخابات په سمبولیک ډول لکه څرنګه چې په تېر کې له پراخو درغلیو ډک ترسره شول، بیا هم ترسره شي، نو په دې صورت کې به بایلونکی جمهوریت وي. دا ډول انتخابات کولای شي چې د سولې روان بهیر ته هم جدي ستونزې را ولاړې کړي.»

په ورته وخت کې د افغانستان د شفافو انتخاباتو بنسټ یا ټیفا ویانده صغرا سعادت وايي، چې په را روان لمریز کال کې د ولایتي شوراګانو، ولسوالیو شوراګانو، ښاروالیو او په غزني کې د ولسی جرګې د انتخاباتو د ترسره کېدو لپاره د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون تیارۍ سمې نه دي رواني.

سعادت وايي، چې افغانستان له امنیتي پلوه په جدي حالت کې دی او دغه شان تر اوسه د انتخاباتو د ترسره کېدو لپاره بودجه هم نه ده برابره شوې. دا په داسې حال کې ده، چې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون چارواکو وړمه ورځ له ولسمشر غني سره په کتنه کې د ځلورو انتخاباتو د ترسره کېدو لپاره طرحه وړاندې کړه.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمان ننګ په دې اړه وویل، چې ولسشمر هغوی ته ویلي چې هڅه کوي په ۱۴۰۰ لمریز کال کې د دغو انتخاباتو د ترسره کېدو لپاره بودجه او لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

## سوداګرۍ وزارت: چابهار بندر د افغان سوداګرو لپاره د پاکساني لارو ښه بدیل دی

د هند له خوا د چابهار بندر د پراختیا لپاره وروستۍ هڅې د افغانستان د خصوصي سکټور له هرکلي سره مخ شوې دي. د سوداګرۍ او صنایعو خونه د هند لهخوا په چابهار بندر کې د لویو کرینګونو له ځای پر ځای کولو وروسته وايي، د پاکستان له خوا د افغانستان پر سوداګرۍ د محدودیتونو تر وضع کولو وروسته، چابهار د افغان سوداګرو د سوداګرۍ د پراختیا لپاره ښه بدیل دی.

د دې خونې ویاند امین بابک وايي، د افغانستان سوداګر د هند لهخوا د دغه بندر د لا پراختیا غوښتونکي دي. د نوموړي په خبره: «د افغانستان خصوصي سکټور د دې ګام هرکلی کوي. چابهار بندر له نورو هېوادونو سره د افغانستان د راکړې ورکړې لپاره یوه سوداګریزه لار ده. موږ هیله لرو چې دا بندر لا پراخ او پکې ډېرې اسانتیاوې برابرې شي.»

د یادونې ده چې د لویو کرېنګونو تړون له دې وړاندې یو چیني شرکت ته ورکړل شوی و، خو د دغو کرېنګونو د برابرولو په برخه کې د ځنډ له کبله دا تړون لغوه شو او اوس یو ایټالوي شرکت ته ورکړل شوی دی.

د دغه تړون پر بنسټ، دا ایټالوي شرکت به شپږ کرېنګونه، چې د ۱۴۰ ټنه وزن د پورته کولو وړتیا لري، د چابهار بندر لپاره چمتو کوي. د یاد بندر د چارواکو په وینا، اوسمهال د دغو کرېنګونو دوې پایې چې بیه یې ۸،۵ میلیونه ډالره کېږي، چابهار بندر ته لېږدول شوي دي.

د سوداګرۍ په برخه کې د افغانستان یوه لویه ستونزه سمندري بندرونو ته د لاسرسي نه درلودل دي. افغانستان له دې وړاندې د کراچۍ او عباس بندرونو له لارې نړیوالو اوبو ته لار پیدا کوله، خو د پاکستان لهخوا د افغان سوداګرو پر وړاندې د محدودیتونو تر وضع کېدو وروسته، کراچۍ بندر ته لاسرسی کم او پر عباس بندر تکیه ډېره شوه.

خو چابهار د عباس بندر په پرتله ۹۰ کیلو متره او د کراچۍ بندر پرتله ۷۰۰ کیلو متره د افغانستان مرکز ته نږدې دی. همدا ډول د دغه بندر له لارې د یوه کانتینر د را رسېدو بیه، له ۵۰۰ تر ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو کم لګښت غواړي.

پر همدې بنسټ، چابهار د افغانستان لپاره یوه له نږدې او هغو بندرونو څخه دی، چې نړیوالو اوبو ته په کمه بیه او لږ واټن د افغانستان لاسرسی پیدا کولای شي.

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۲ |
| € | ۹۳،۳ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۴۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳،۸ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې لومړۍ | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۰مه | ٦٦٧مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٤ | ۲۱ | ۲۱ | ۱۲ | ۲۳ | ۱۰ |
| -۱ | ۹ | ۲ | ۲ | ۵ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰٦:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰٤ | مازیګر ۰۳:۳۲ | ماښام ۰۵:۱۰ | ماخوستن ۰٦:۳۸

## نړۍ



راپورونه: په سوډان کې د وسله والو په خونړي برید کې ۸۰ تنه وژل شوي او له ۱٦۰ ډېر ټپیان شوي

۳

## ریاست هواشناسی: احتمال دارد کشور در سال ۱۴۰۰ با خشکسالی مواجه شود



ریاست هوا شناسی افغانستان می گوید که با در نظرداشت کاهش ۳۵درصد بارندگی در سال ۲۰۲۰ نسبت به ۲۰۱۹، و پیش بینی اندک بارندگی در زمستان جاری، احتمال دارد کشور با خشکسالی مواجه شود.

محمد نسیم مرادی آمر پیشگویی اوضاع جوی ریاست هواشناسی افغانستان، گفته است که نظر به دیتای ریاست هواشناسی افغانستان و تحقیقاتی که توسط مودل های کشورهای آسیای جنوبی در مورد وضعیت جوی کشور صورت گرفته، افغانستان در سال ۲۰۱۹ خوبترین بارندگی؛ اما در سال ۲۰۲۰ کمترین بارندگی را داشت.

به گفته او، نتایج تحقیقی که ریاست هواشناسی در همکاری با کشورهای همسایه انجام داده، نشان می دهد که در سال ۲۰۲۰ میلادی، تقریباً ۳۵ درصد بارندگی ها در مقایسه با سال ۲۰۱۹ کاهش یافته بود.

قرار معلومات وی، امکان خشکسالی وجود دارد؛ زیرا تحقیقات نشان داده است که بارندگی در سه ماه اول سال ۲۰۲۱ میلادی نیز در افغانستان اندک است.

اکبر رستمی سخنگوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری گفت که کاهش برف و باران، روی محصولات زراعتی و بخش مالداری تاثیر سوء می گذارد؛ زیرا باعث کاهش علفچرها و چراگاه ها می شود و کشت گندم للمی را که به صورت مستقیم با آب باران وابسته است، نیز متضرر می سازد.

به گفته او؛ در صورتی که خشکسالی شود، وزارت یادشده بنا بر تجاربی که از خشکسالی سال ۱۳۹۷ دارد، برنامهٔ توزیع علوفهٔ حیوانات در ۳۴ ولایت کشور را روی دست خواهد گرفت.

## د سیاسي ګوندونو ائتلاف: ډېر ژر به په ټول پاکستان کې د حکومت پرضد پراخ لاریونونه پیل کړو



د راپورونو له مخې، د پاکستان د حکومت د سیاسي اپوزیسیون ائتلاف چې نهه سیاسي ګوندونه پکې شامل دي، په ټول پاکستان کې د حکومت پرضد د پراخو لاریونونو خبرداری ورکړی. دوی وایي، دغه لاریونونه به یې تر هغو روان وي، چې عمران خان د صدارت له څوکۍ لرې شوی نه وي.

دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۲۰ز کال په نومبر او ډسمبر میاشتو کې هم په لسګونو زرو کسانو د پاکستان په بېلابېلو ښارونو کې د حکومت پرضد احتجاجي جلسې وکړې او د لومړي عمران خان د لرې کېدو تر څنګ یې له سره د شفافو ټاکنو غوښتنه وکړه. لاریونوال ادعا کوي چې عمران خان د ۲۰۱۸ز کال په ټاکنو کې د پاکستان د ځواکمن پوځ په مرسته په تقلبي رایو واک ته رسول شوی دی.

په ملکي چارو کې د پوځي ادارو مداخله، پر ازادو رسنیو محدودیتونه او د مدني ازادیو ځپل هغه نور تورونه دي، چې د اپوزیسیون ګوندونه یې پر عمران خان پورې کوي، خو نوموړي او د پاکستان پوځ دا تورونه رد کړي دي.


د پاکستان له اپوزیسیون ډلو جوړ د ډیموکراتیک غورځنګ مشر مولانا فضل الرحمن وایي، چې ډېر ژر به په اسلام اباد کې د پاکستان د ټاکنو کمېسیون د ودانۍ مخې ته لاریونونه پیل شي. د هغه په خبره، عمران خان د خیریه مرستو په نوم بسپنه ټولوي او پر سیاسي کړکېچ او په ټاکنو کې یې پر درغلۍ لګوي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۹٦ میلیونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹٦میلیونه او سل زره او ۴۴۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۵۱ زره او ۸۰۸ کسان مړه شوي او نږدې ٦۹ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۴ میلیونه او ٦۲۸ زره او ۱۹۸ ته رسېدلې او ۴۰۸ زره او ٦۲۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۵۸۲ زره او ٦۴۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۵۱۲ زره او ۲۳۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ٦۱۲ زره او ۸۰۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ۴۳۳ زره او ۴۹۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ژوند

## مایکروسافټ خپل پیاوړی ټبلېټ معرفي کړ



مایکروسافټ کمپنۍ له خپل تر ټولو پیاوړي ټبلېټ، سرفېس پرو۷ پلس څخه پرده پورته کړه. مایکروسافټ کمپنۍ خپل دغه ټبلېټ د امریکا په لاس وېګاس کې د سي اي اېس غونډې پر مهال معرفي کړ. په دغه ټبلېټ کې ځینې د پام وړ بدلونونه راوستل شوي دي. دغه ټبلېټ له اېنټېل کور ای۵ پروسېسر او اېل ټي اي سیمکارت سره هم د کارولو وړ دی. په دغه ټبلېټ کې د اېنټېل کمپنۍ نوی پرمختللی پروسېسر اېنټېل ۱۱ جنرېشن ټایګر لېک کور ای۳، کور ای۵ او کور ای۷ پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې شي. د دغه ټبلېټ کور ای۳ پروسېسر، ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټه د فایل ثبتوني وړتیا لرونکي بڼې بیه ۸۹۹ امریکایي ډالره او کور ای۷ پروسېسر او ۳۲ ګېګابایټ رم او یو ټېرابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه ۲۷۹۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## کدو؛ شین رنګه سبزي او ګټې یې



د شین رنګه سبزیو له جملې څخه یو هم کدو دی، چې په طبیعي ډول ډېرې زیاتې ګټې لري او د بدن د اوبو په برابر ساتلو او د ویټامین سي، ویټامین اې او د ویټامین کې یوه مهمه ذریعه هم ده. دغه راز د کدو په جوړښت کې سودیم، کلسیم، اوسپنه، زېنک او د میګنیزیم په څېر اړین معدني مواد هم موجود دي، چې د خرابو کلیسترولو سطحه ټیټوي او د زړه لپاره ګټور تمامېږي. بلخوا ویل کېږي چې د کدو په استعمال سره د هضم مرحله ښه والی مومي او د قبض او خېټې له ستونزو مو ژغوري. نو راځئ چې نن ورځ یې د ګټو په اړه ډېر څه ولولو. ویل کېږي چې د کدو د جوسو په استعمال سره زموږ بدن یخوالی مومي او د اوړي په ورځو کې مو د بدن اوبه برابرې ساتي، چې په پایله کې مو معده یخه ساتل کېږي او د بدن تودوخه مو هم ورسره کمېږي. ویل کېږي چې د وزن د کمښت لپاره د کدو له جوسو ډېره ګټه اخیستل کېږي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

